

# روغتیا د هر څه سر دی،
# واکسین د روغتیا سر دی!

واکسين: ډيپتيريا، پرتوسيس،
تيتانوس، پوليو، مننژيت، يرقان او
سيروسيس، د ځيګر سرطان، شرى،
روبيلا، ممپس، نرى رنځ، سينه بغل،
اسهال، او داسې نور، چې د مرګ
سبب کيداي ش ي ژغوري.

## واکسين کول د هر ماشوم حق دی

د ترکيې د واکسين په کليزه کې شامل
ټول واکسينونه زموږ ماشومانو ته چې
زموږ په هيواد کې ميلمانه دي وړيا
ورکول کيږي.

دا خپرونه د اروپايي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتويات يوازې او يوازې د ترکيې د جمهوريت د روغتيا وزارت مسؤليت دی او د اروپايي اتحاديې نظرونه نه منعکس کوي.

**مناسب ځای، ښه خدمت**

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتيايی مرکز ته ورشئ.

sıhhat · www.sihhatproject.org · sihhatproject

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# واکسين روغتيا ده

sıhhat



## څوک واکسین کیږي؟

ټول ماشومان باید د زیږون ورسته د مهال ویش سره سم واکسین شي. صحتمند لویان، ځانګړو مسلکی کارکونکی او هغه خلک چې اوږدمهاله ناروغی لري هم باید واکسین شي.

## ولې واکسین باید تطبیق شي؟

د واکسین د تطبیق په پایله کې د واکسین د مخنیوي وړ ناروغیو د قضیو شمیر په کمیدو کې مرسته کوي. په هغو ټولنو کې چې د واکسین کولو په واسطه د ناروغی په وړاندې مقاومت رامنځ ته شوي؛هلته ناروغی نه عام دي او نه هم خپریږي.

## واکسین څه دی؟

واکسین هغه مواد دي چې د میکروبونو د ضعیف کولو او یا پټ شوي زهرونو (زرو) له لارې رامینځته لاس ته راځي او په انسانانو او حیواناتو کې د ناروغیو اغیزو د کمولو لپاره کاریږي.

## واکسین څنګه کار کوي؟

د تطبیق شوي واکسین په نتیجه کې بدن میکروبونه یا زهرجن پیژني او د دوی پروړاندي دفاعي حجرات رامینځته کوي. په دي توګه، بدن د ناروغیو په وړاندې معافیت ترلاسه کوي.

| د ماشومتوب لپاره د واکسین ملی مهالویش | په زیږون کې | د 1 میاشتې پای | د 2 میاشتې پای | د 4 میاشتې پای | د 6 میاشتې پای | د 12 میاشتې پای | د 18 میاشتې پای | د 24 میاشتې پای | د 48 میاشتې پای | د 13 کلنۍ په عمر کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Hep-B | I | II | | | III | | | | | |
| BCG | | | I | | | | | | | |
| DaBT-IPA-Hib | | | I | II | III | | R | | | |
| *KPA | | | I | II | | R | | | | |
| KKK | | | | | | I | | | II | |
| DaBT-IPA | | | | | | | | | R | |
| OPA | | | | | I | | II | | | |
| Td | | | | | | | | | | R |
| هپاتیت اې | | | | | | | I | II | | |
| شرى | | | | | | I | | | | |

## ایا واکسینونه جانبي عوارض لري؟

واکسین خوندي دي، د دوی جانبي عوارض لږ او لنډمهاله دي. په واکسین شوي ماشومانو کې؛ د انجیکشن په ځای کې ممکن معتدل تبه، بې خوبی، یو څه ټوخی، سوروالی، نرموالی او درد شتون ولري په دي صورت کې؛

- دواکسین پلي شوی ځای کې یخنی کینبودلای شي.
- د درد وژونکي او انټیپایریټیکونه لکه پاراسیټامول ورکړل شي

**د واکسینونو په اړه ستاسو د پوښتنو او ستونزو لپاره، د روغتیا اداري ته مراجعه وکړئ چیرې چې واکسین ورکول کیږي**

**DaBT-IPA:** ډیپتیریا، سیلولر پرتوسس، تیتانوس، غیر فعال پولیو، د هیموفیلس انفلوینزا ډول بی واکسین (پنځه مخلوط واکسین).

**KPA**: د نیوموکوکل ضد واکسین

**KKK:** د شرى، روبیلا، ممپس واکسین

**DaBT-IPA**: ډیپتیریا، سیلولر پرتوسس، تیتانوس، د پولیو غیر فعال واکسین (کواډ مخلوط واکسین).

**OPA:** د پولیو واکسین

**Td:** د بالغ ډول ډیفتیریا - تیتانوس واکسین

**BCG:** باسیلوس کالمته-ګورین واکسین

**R:** پیاوړي کولونکی

*له 2019.01.01 نیټې ورسته زیښول شوي ماشومانوته 2م 4م او 12 مي میاشتو کي تزریق کیږي.

**1 جولاي 2016 نیټې وروسته زیښول شوي ماشومان څخه په پیل سره او 48 مي میاشتې ته داخل شوي ټولو ماشومانو ته تزریق کیږي. 1 جولاي 2016 د مخه زیږیدلي ماشومان او فعلا په ابتدایي ښوونځي د نه داخلشوو په شرط د شرى، روبیلا، ممپس واکسین دوهم ډوز تزریق او دتیتانوس واکسین د 2020-2021، 2021-2022 او 2022-2023 تعلیمي کال کې د ابتدایي ښونځیو په لمړي ټولګي کې د ښونځیو د واکسین کولو په ښکل تزریق کیږي.